مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۴/۰۹/۲۸

# د لنډیو کمال

نیغه نیوکه ستوغه وي؛ ځکه خو یې په اوریدو خلک د هوش په ځای جوش ته ځي او احساساتي کیږي؛ خو که همدي ستوغي نیوکي سره د طنز مساله کډه شي؛ نو ترسکونه شي او خپل تاثیر خور کړي.

د پښتو په بې بدیله پانګه لنډیو کې ځیني جدي نیوکي په داسي انداز شوي چي خلک یې د ویناوالي طنزي ظرافت او مهارت ته ګوته په غاښ شي. په دغسي لنډیو کې ویناوالي خپلي نیوکي په داسي حکمت سره کوي چي مقابل لوري سره د ضدیت لرلو ګومان پرې نه کیږي.

وګورئ؛ زموږ په ټولنه کې د خواښي او نږور ترمنځ رقابت، تربګني او جنجال یوه مهمه موضوع ده. البته دا یوازي زموږ د ټولني خاصه نه ده؛ په ګڼو دودیزو ټولنو کې دا ستونزه قابل درک ده. د بیلګي په توګه، هندوستان خو په دي جنجال بیخي یو اوږد سریال ( کیو کی ساس بهی کبهی بهوتی) جوړ کړی دی. یعني: یو وخت خواښي هم نږور وه. دغه جنجال عموما د اقتدار د ساتني له کړیوانه سر پورته کوي. اقتدار که په هره کچه وي، لرل او بیا یې ساتل یو جنون دی، یوه نشه ده او دا جنون او نشه چي څومره په لوړه کچه وي، هومره خطرناکه وي.

په ډیری کورنیو کې چي کله یوه میرمن خواښي شي، نو ور سره جوخت یې دا فکر په سر کې رېښي وځغلوي چي په کور کې یې د قدرت شریکه پیدا شوه او له دي سره یې داسي احساس زړه ته لاره وکړي چي ګوندي د مطلقه اقتدار ستني یې په جرقیدو دي؛ نو بیا یې د مخنیوي لپاره ټول وخت په داسي ستراتیژیو جوړولو تیروي چي څنګه مقابل لوری (نږور) په خپله قبضه کې وساتي، څنګه یې د حق او واک غوښتني روحیه وځپي او څنګه یې ځان ته سل سلنه تابع کړي. د دي لپاره له ګڼو لارو او وسیلو کار اخلي، کله ورته د محرومیت احساس ورکوي، کله یې د ناکامه ښودلو هڅه کوي، کله یې توهینوي او کله خو خبره آن تر شکنجي ورسیږي. ټول کوښښ یې دا وي چي څنګه ټول واک په خپلو منګولو کې وساتي.

په ځینو پښتو لنډیو کې چي اصلا، د نا معلومو ښځینه وینا والو د زړه اصلي غږ دی، دغه حالت په ډیر ښه او ماهرانه انداز پورته شوی دی. د خپل مظلومیت او محرومیت روښانه تصویر یې په داسي ښایسته رنګونو نقاشي کړی چي له خواښي سره د مستقیمي دښمنۍ ګومان پرې نه کیږي.

د بیلګي په توګه: په دغه لنډۍ کې یوې نږور د خپل محرومیت څومره رښه او ژوره عکاسي کړې ده، د داسي محرومیت چي حتا د خواښي له اجازې پرته د ټیکلي (ډوډۍ) خوړلو واک هم نه لري. خو همدا خبره یې په داسي انداز کړې چي په ښکاره له خواښي سره مخالفت تري نه محسوسیږي:

**قربان قربان د دادا کوره**
**له ډکه شکوره به چاپیره تاویدمه**

په خپلو منګولو کې د واک ساتني لپاره، ځیني خواښي ګاني هڅه کوي چي د زامنو د میرمنو د هر کار تفتیش وکړي او په دي توګه غواړي چي هغوی له واک مونډلو محرومه وساتي، له هغوی څخه په خپل نوي کور کې د مالکیت احساس واخلي او تل د دي د یوې مزدورې او خادمې په توګه ژوند وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وګورئ، په لاندې لنډۍ کي یوه نږور د خپلي خواښي بدګومانه تفتیش تشریح کوي او ښيي چي دومره څارني لاندې ده چي حتی ډوډۍ هم باید د هغې د شمارلو تر پروسې لاندې تیرې شي او په خپل سر نشي کولای کومه ډوډۍ اضافه پخه کړي؛ خو همدا خبره هم په داسي انداز کوي چي ظاهرا ترې د شکایت بوی نه لټیږي:

**خواښي مي ښهٔ ده بده نهٔ ده**
**پهٔ تناره کي سر منډي ډوډۍ شمارینه**

د دومره نظارت، تفتیش او د واک له انحصار سره سره، بیا هم د ځینو خواښو زړونه نه سړیږي، د رقابت تنده یې نه ماتیږي او پر خپلو نږورګانو هیڅ لورینه نه لري. هیڅ یې نه پیرزو کیږي چي نږور یې حتا ښه خواړه وخوري . یوه نږور د خپلي خواښي همدا عادت بیانوي؛ خو په داسي ژبه چي نه پرې د شکایت او ګیلي ګومان کیږي او نه له خپلي خواښي سره د دښمني. یو عجیبه او فوق العاده طنز پکي پروت دی:

**خواښي مي ښه ده بده نه ده**
**چي چرګ حلال کړي ما د پلار کره لیږینه**

د پښتو ژبې غني پانګه ( لنډۍ) د پښتني ټولني د کلتور رڼه هنداره ده. په دې کي زموږ د دود دستور، عاداتو، باورونو او... ژوره عکاسي شوې ده. په دقت لوستل يې موږ ته يوه داسي شفافه هنداره مخي ته ږدي چي په اسانه پکي خپله ننداره کولای شوو او په اسانه درک کولای شو چي کومه ښه مو ښه او کومه مو ناوړه ده.

د تلي ٥مه/ ١٤٠٣
ن. دوست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ